رساله نمبر: 2



# اِحترامِ مُسلِم

(پشتو)


شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَہلِسُنّت، بانیٔ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالية

# اِحتِرامِ مُسلِم

د شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د بيان دا رِساله ''اِحترامِ مسلم'' په اردو ژبه کښې ليکلې شوې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمي، زياتي اوموميئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مجلسِ تَراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران
پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# اِحتِرامِ مُسلِم [1]

شيطان كه هر څومره ناراستي درولي، تاسو دا بيان پوره اولولئ
اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ تاسو به په خپل زړه كښې مَدَني انقلاب محسوس كړئ.

## د دُرُود شريف فضيلت

د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "د قيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته زيات نزدې هٰغه وي چا چه په ما زيات دُرُود شريف وئيلي وي." (سُنَنُ التِّرمِذِی ج۲، ص۲۷، حديث۴۸۴)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## رَدي روپۍ

په حضرتِ سيِّدُنا شيخ ابو عبدُالله خَيَّاط رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ باندې به يو مجُوسي [يعني د اور عبادت كوونكي] جامې ګنډلې او هره پيره به ئې په اُجرت كښې رَدي روپۍ وركوله، هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به په خاموشۍ واغسته. يوه ورځ د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په غير موجودګۍ كښې د

---

1 دا بيان اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د تبليغ قرآن و سُنَّت د عالمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي د درې ورځو په بين الاقوامي اجتماع (۱۱، ۱۲، ۱۳) شعبانُ المُعَظَّم ۱۴۲۳ هجري د خيالي په ورځ په مدينةُ الاولياء (مُلتان) كښې فرمائيلي وو، د ترميم سره ليكلي شوې حاضرِ خدمت دې. مجلِس مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَة

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

هغوئي شاګرد د مجوسي نه رَدي روپئ وانغستله. چه بيرته راغلو او خبر شو نو شاګرد ته ئې اوفرمائيل: تا د هغه نه رَدي دِرهم ولې وانغستو؟ د ډيرو کلونو نه هغه ما ته رَدي دِرهم راکوي او زه ئې هم قصداً اخلم [په دې نِيَّت] چه دا هغه روپئ چرې بل مسلمان ته ورنکړي. (اِحياءُ الْعُلوم ج۳،ص۸۷ مُلَخَّصاً)

## دعوتِ اسلامي څه غواړي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! په ښځوانو مسلمانانو کښې به د **اِحترامِ مُسلِم** څومره ډيره جذبه وه چه د يو ناپيژندګلو مسلمان ورور د نقصان نه د بچ کولو د پاره به ئې خپل نقصان برداشت کولو، او نن يو ورور د بل ورور په لُوټ کولو کښې مصروف دې. د تبلِيغِ قرآن و سُنَّت عالمګير غير سياسي تحرِيك **دعوتِ اسلامي** د اَسلافو ياد تازه کول غواړي. ”**دعوتِ اسلامي**“ نفرتونه ختموي او محبَّتونه عاموي. هر اسلامي ورور ته پکار دي چه په مَدَني قافِلو کښې د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره سفر او هره ورځ د ”فِکرِ مدينه“ په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوي او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبۍ ورځ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته جمع کوي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر به ئې په زړه کښې د **اِحترامِ مُسلِم** جذبه بيداره شي. که داسې اوشو نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی زمونږه معاشره به

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

يو ځل بيا د مديني مُنَوَّرې د زره راښکونکو او ښکلو او خوشبودارو سدا بهارو رنګ په رنګ ګلونو ښکلې ګُلزار جوړ شي.

طیبہ کے سوا سب باغ پامالِ فَنا ہونگے
دیکھوگے چمن والو جب عَہدِ خزاں آیا

سِوا د طيبه به ختم و فنا شي ټول باغونه
ګورئ چمن والؤ چه کله وخت د خزان راغي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## درې کسان د جَنَّت نه محرومه

په مور و پلار او نورو ذَوِی الْاَرحام (يعني د چا سره چه نَسَبي خپلوي وي درجه په درجه) په معاشره کښې د ټولو نه د زيات احترام او د ښه سُلوك حقدار وي، خو افسوس چه نن صبا دې طرف ته توجُّه کمه ورکولې کيږي. ځيني خلق د خلقو په مخکښې اګرچه ډير زيات عاجِزه او اخلاقي ښکاري خو په خپل کور کښې خاص طور د مور و پلار په حق کښې ډير زيات سخت مِزاجه او بد اخلاقه وي. د داسې خلقو د توجُّه د پاره عرض دې چه د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن عُمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه د دوارو جهانو سردار خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "درې کسان به جنَّت ته نه ځي، مور و پلار ته تکليف ورکوونکې او دَيُّوث او د نارينه انداز اختيارولو والا زنانه."

(مَجمَعُ الزَّوَائِد ج٨، ص٢٧٠. حديث١٣٤٣٢)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

## د دَيُّوث [يعني دَووث] تعريف

په بيان شوي حديثِ پاك كښې مور و پلار ته تكليف وركولو والا سره سره د **دَيُّوث** [يعني دَووث] په باره كښې هم وَعِيد راغلې دې چه هغه به د جنَّت نه محرومه كړې شي. ''دَيُّوث'' يعني هٰغه سړې چه هغه د خپلې ښځې يا بلې محرمې په باره كښې غيرت نه كوي. (دُرِّمُختار ج۶، ص۱۱۳) مطلب دا چه [د حصارولو] د قدرت لرلو باوجود خپله ښځه، مور، خويندې او پيغلې لُونړه وغيره په كوڅو بازارانو، شاپِنگ سينټرو او د ښځو او سړو گډ وډ د سيل ځائيونو كښې بې پرده گرځيدلو، د غيرو گاونډيانو، نامحرمو خپلوانو، غير محرمه نوكرانو، څوكيدارانو او ډرائيورانو سره د آزادئ او بې پردگئ نه نه منع كولو والا **دَيُّوثان**، د جَنَّت نه محروم او د دوزخ حقداران دي.

ياد ساتئ د نورو نامحرمو سره سره د تره د ځوئ، د ماما د ځوئ، د ترور د ځوئ، د ترور د خاوند نه [پرده ده] او د چاچي [او د ليور د ځوئ په مينځ كښې]، د مامي [او د خاوند د خوريا په مينځ كښې] او د ليور او ورندار په مينځ كښې هم شريعت د پردې حُكم كړې دې. كه زنانه د دې خپلوانو سره آزادي ساتي او د دوئي نه شرعي پرده نه كوي نو د جهنَّم حقداره ده او كه خاوند د خپل وس مطابق ښځه د دې گناه نه نه منع كوي نو شرعاً هغه ''دَيُّوث'' او په شروع كښې د جنَّت نه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

محرومه او د اور د عذاب حقدار دې. څوك چه عَلانيه **دَيُّوث** دې هغه فاسِقِ مُعلِن، ناقابِلِ اِمامت، **مردُودُالشَّهَادَة** (يعني د ګواهئ د پاره نالائِقه) دې.

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسول په مَدَني قافِلو كښې د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره سفر او هره ورځ د فِكرِ مدينه په ذريعه د **مَدَني انعاماتو** رِساله ډكوئ او د هرې مياشتې په وړومبئ ورځ ئې د خپل ځائ ذِمّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی د بې حَيائې د دَيُّوثئ د مرض او د نورو ګناهونو د مَرَضونو نه به د هُغه خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر خلاصې اوموموئ چه د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حيا نه ښكته مباركو سترګو په خاطر زما آقا اَعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په بارګاهِ رَبُّ الۡعِزَّت كښې عرض كوي: ؎

یا الٰہی رنگ لائیں جب مِری بے باکیاں
اُن کی نیچی نیچی نظروں کی حیا کا ساتھ ہو (حدائق بخشش)

**د شِعر ترجَمه:**

يا اِلٰهي چه كله په ورځ د محشر زما په اعمال نامه كښې زما ګناهونه د ښكاره كيدو وخت وي، په هغه وخت كښې د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښكته كتلو والا مباركو سترګو د حيا په خاطر په ما پرده راواچوې.

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مردانه لِباس والا زنانه د جنَّت نه محرومه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (كنزُ العُمّال)

په حديثِ پاك کښ د سړو انداز اختيارولو والا ښځه هم د جَنَّت نه محرومه قرار کړې شوې ده. نو کومه زنانه چه د سړو جامې اغوندي، د سړو پيزار په ښپو کوي يا د سړو په شان وِيښته کټ کوي هغه هم په دې وعِيد کښ شامِله ده. نن صبا خلق د ماشومانو د پاره د دې خبرې هيڅ لحاظ نه ساتي، هلك ته د جينئ لِباس اغوندي چه په هغې کښ هغه جينئ ښکاري. او جينئ ته **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ د هلکانو جامې مَثَلًا پينټ شرټ اغوندي، د هلکانو څپلئ ورته په ښپو کوي او هيټ وغيره ورته په سر کوي، وِيښته هم ورله د هلکانو په شان کټ کوي او هغه بالکل هلك ښکاري. صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ليکي: ”د ماشومانو هلکانو په لاسونو او ښپو بې ضرورته نکرِيزې لګول ناجائِزه دي. زنانه ئې په خپلو ښپو او لاسو لګولې شي خو که هلك له ئې اولګوي نو ګنهګاره به وي.“ (بَهارِ شرِيعَت ج۳، ص ٤٢٨)

خپلو ماشومانو ته داسې جامې مه اغوندئ په کومو جامو چه د اِنسان يا حيوان [ځاروي، ځناور] تصوير جوړ وي، ماشومانو له ناخُن پالِش [يعني د نوکانو پالش] هم مه لګوئ او زنانه دِ هم بالکل د نوکانو پالش نه لګوي ځکه چه د نوکانو پالش لګيدلې وي نو د هغې نه لاندې نُوك ته اوبه نه رسي، لِهٰذا اودس او غُسل ئې نه کيږي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

## د مشر ورور اِحتِرام

د مور و پلار سره د خاندان د نورو كسانو مَثَلًا د خويندو ورونړو هم خيال ساتل پكار دي. د والِد صاحِب نه پس د نِيكه او د مشر ورور مرتبه ده ځكه چه مشر ورور د پلار په ځائ وي. د خوږ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "د مشر ورور حق په كشر ورور باندې داسې دې څنګه چه د پلار حق په اولاد وي."

(شُعَبُ الْاِيمان ج٦، ص٢١٠، حديث٧٩٢٩)

## اولاد ته ادب زده كړئ

مور و پلار ته هم پكار دي چه د خپل اولاد د حق خيال ساتي او هغوئي د مادرن جوړولو په ځائ د سُنَّتو نمونه جوړ كړي، هغوئي ته ښه اخلاق اوښائي، د بدو صُحبتونو نه ئې لرې ساتي، د سُنَّتو نه ډك مَدَني ماحول كښې ئې شامِل كړي. د فلمونو، ډرامو، د سندرو او سازونو او د غلطو رسمونو او رواجونو نه ډكو، او د اللّٰه تعالیٰ او رسُول صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ياد نه محرومه كولو والا د بې حيائې د مجلسونو نه ئې بچ ساتي. نن صبا شايد مور و پلار د اولاد حقوق هم دا ګنړي چه هغوئي ته دنياوي تعليم وركړې شي، خه هُنر او مال ګټل ورزده كړې شي. آه د خپل ګران اولاد د لِباس او بدن خو د خِيرې او ګرد نه د بچ كولو خيال كوي خو د ماشوم د زړه او دِماغو او د اعمالو او افعالو د پاك

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

كولو هيڅ خيال نه كوي. د اللّٰه تعالیٰ د محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "كوم كس چه خپل اولاد ته ادب زده كړي هغه د هغه د پاره د يو صاع[2] صَدَقه كولو نه غوره دې." (سُنَنُ التِّرمِذِی ج۳، ص۳۸۲ حديث۱۹۵۸) او ارشاد دې چه "يو پلار هم خپل اولاد ته څه داسې څيز نه دې وركړې چه هغه د ښه ادب نه بهتر وي."

(اَيضاً ص۳۸۳، حديث۱۹۵۹)

## په كورونو كښې د مَدَني ماحول نه كيدو يوه وجه

افسوس! نن صبا په مونږه كښې د اكثرو په كورونو كښې **مَدَني ماحول** بالكل نشته دې. په دې كښې د ډيره حده پورې زمونږه خپل قصور هم دې. د كور د كسانو سره زمونږه ډيره زياته آزادي، توقې تقالې، فُضُول خبرې او بد اخلاقي او ډيره زياته بې تَوَجُّهي وغيره د دې اسباب دي. د عامو خلقو سره خو زمونږه ځينې اسلامي وروڼه د ډيرې زياتې عاجزئ [او خوش اخلاقئ] سُلوك كوي خو په خپل كور كښې د اَزمرې په شان برمبيږي، دغسې ئې په كور كښې عِزَّت هډو جوړيږي نه، او د كور كسان ئې د اِصلاح نه محرومه پاتې شي. خبردار! كه تاسو خپل اخلاق بهتر نه كړل او د كور د كسانو مو په عاجزئ او په خوش اخلاقئ د اصلاح كولو كوشش اونكړو نو

[2] يعني تقريباً څلور كِلو غَله.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنْزُ الْعُمَّال)

چرې جهنّم ته غوزار نه شئ. اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په اته وِيشتمه سِيپاره سُوْرَةُ التَّحرِيم آيت نمبر ٦ کښې ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: اے ايمان والؤ خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه اور نه بچ کړئ چه د هغې خشاك انسانان او کانړي دي.

## د کور کسان د اور نه څنګه بچ کړو؟

د دې آيَتِ کريمه نه لاندې په **خَزَائِنُ الْعِرفان** کښې دي: د اللّٰه تَعَالٰی او د هغه د رسُول صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فرمانبردارئ اختيارولو، په عبادتونو کولو، د ګناهونو نه په ډډه کولو، د کور کسانو ته د نيکئ په هدايت کولو او د بدئ نه په منع کولو او هغوئي ته په عِلم او ادب ښودلو (خپل ځانونه او د خپل کور کسان د جهنَّم د اور نه بچ کړئ)

## د خپلوانو اِحترام

د ټولو خپلوانو سره ښه سُلوك کول پکار دي. د حضرتِ سيِّدُنا عاصِم رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه رسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا ته چه دا خوښه وي چه په عُمر کښې ئې زياتوالې او په رِزق کښې ئې فراخي اوشي او بد مرګ ئې لرې شي هغه دِ د اللّٰه تَعَالٰی نه يَرِيږي او د خپلوانو سره دِ حُسنِ سُلوك کوي.“

(اَلْمُستَدرَك ج٤، ص٢٢٢، حديث٧٣٦٢)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: خپلوي ماتولو والا [يعني د نَسَبي خپلوانو سره تعلق پريښودلو والا] به جَنَّت ته نه ځي."

(صحيح البُخاری ج4، ص۹۷، حديث۵۹۸۴)

# د خپلوانو سره د حُسنِ سُلوک مَدَني ګلونه

## د صِلهٔ رِحمي معنٰی

د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي اداري مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د ۳۱۲ صفحو کتاب بَهارِ شرِيعَت حِصَّه (۱۶) صفحه ۲۰۱ نه ۲۰۳ کښې دي: د صِلهٔ رِحم معنٰی خپلوي برقرار ساتل دي يعني د نَسَبي خپلوانو سره نيکي او سُلوك کول. د ټول اُمَّت په دې خبره اتفاق دې چه صِلهٔ رِحم واجب ده او قَطْعِ رِحم (يعني [نَسَبي] خپلوي پريښودل) حرام دي.

## د کومو خپلوانو سره صِله واجِب ده؟

د کومو خپلوانو سره چه صِلهٔ (رِحم) واجِب ده هغه څوك دي؟ ځيني عُلماء فرمائي چه هغه ذُو رِحم [يعني نَسَبي] مَحرم دي او بعضو فرمائيلي دي چه د دې نه مُراد [مُطلقاً] ذُو رِحم دي، که مَحرم وي او که نه. او ظاهر هم دا دويم قول دې، په اَحاديثو کښې مطلقاً د نَسَبي خپلوانو سره د صِله (يعني سلوك) کولو حُکم راځي، په قُرآنِ مَجِيد کښې مُطلقاً ذَوِی الْقُرْبٰی (يعني نزدې خلق) فرمائيلي شوي دي خو دا خبره ضرور ده چه په نَسَبي خپلوئ کښې مختلِف درجات دي (هم

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

دغسې) په **صِلۀ رِحُم** کښې هم **مختلِف** درجات دي (هم دغسې) د **صِلۀ رِحُم** (يعني د [نَسَبي] خپلوانو سره د سُلُوك) په درجاتو کښې هم فرق دې. د مور و پلار درجه د ټولو نه زياته ده، د هغوئي نه پس د "ذُو رِحم مَحرم" (يعني هغه خپلوان د چا سره چه د نَسَبي خپلوئ په وجه نكاح د هميشه د پاره حرامه وي) د هغوئي نه پس د باقي نَسَبي خپلوانو **عَلٰی قَدرِ مَراتِب**. (يعني په نسبي خپلوئ کښې د نزديکت د ترتيب مطابق)

(رَدُّالْمُحْتَار ج۹ ص۶۷۸)

## ذُو رِحم مَحرم او "ذُو رِحم" نه څه مراد دي؟

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه د **سُوْرَةُ الْبَقَرَه** د آيت نمبر ۸۳

**وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّذِي الْقُرْبٰى** [مفهوم] ترجمهٔ كنزُالإيمان: "او د مور و پلار سره نيكي كوئ او د خپلوانو سره."

نه لاندې په "تفسِيرِ نعِيمی" کښې ليکي: او قُرْبٰی په معنٰي د نزديکت کښې دي د اَهلِ قَرابَت [يعني نزدې [نَسَبي] خپلوانو] سره احسان [يعني ښيګړه] كوئ، ولې چه د اَهلِ قَرابَت خپلوي د مور و پلار په ذريعه وي او د هغوئي احسان هم د مور و پلار په مقابله کښې کم وي ځکه د هغوئي حق هم د مور و پلار نه پس دې، په دې ځائ کښې هم يو څو هدايتونه شته دې: **وړومبې هدايت: ذِي الْقُرْبٰى** هغه خلق دي د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلى)

چا سره چه [نَسَبي] خپلوي د مور و پلار په ذريعه وي او هغې ته "ذِیْ رِحُم" هم وائي، دا درې قِسمه دي: يو د پلار قَرابَت دار [يعني نزدې خپل] لكه [د پلار د طرفه] نِيكه، نيا، ترور، تره وغيره، بل د مور د طرفه نيا او نِيكه، ماما، ترور، اَخيافي ورور [يعني پركتې] (يعني د چا چه پلار جُدا وي او مور ئې يوه وي، داسې خور او ورور) وغيره، دريم د دوارو شريك قَرابَت دار لكه حقيقي خويندې او ورونړه. په دوئي كښې چه د چا [نَسَبي] خپلوي قوي وي د هغه حق مُقَدَّم [يعني وړومبې دې]. **دويم هِدايت:** اَهلِ قَرابَت دوه قِسمه دي **يو هُغه** د چا سره چه نِكاح حرامه ده، هغوئي ته **ذِیْ رِحُم مَحْرَم** وائي (يعني كه په هغوئي كښې يو زنانه او بل نارينه فرض كړې شي نو نِكاح ئې د هميشه د پاره حرامه شي لكه مور، پلار، خوئ، لُور، خور، ورور، تره، د پلار د طرفه ترور، ماما د مور د طرفه ترور، [وراره، وريره] خورايا، خورزه وغيره) لكه تره، د پلار د طرفه ترور، ماما، د مور د طرفه ترور وغيره. د ضرورت په وخت كښې د دوئي خِدمت كول فرض دي، نه كولو والا به ګنهګار وي. **دويم هُغه،** د چا سره چه نِكاح حلاله ده لكه د ترور اولاد، د ماما اولاد، د تره اولاد، د دوئي سره اِحسان او سُلوك كول سُنّتِ مُؤَكّده دي او ډير ثواب دي خو د هر قَرابَت دار بلكه د ټولو مسلمانانو سره د ښو اخلاقو سلوك كول ضروري او هغوئي ته تكليف وركول حرام دي. (تَفسيرِ عزيزى) **دريم**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

**هِدايت:** د سخرګنئ جُدا خپلوان ذِی‌رِحُم نه دي، خو په هغوئي کښې ځيني مَحرم دي لکه خوانبې او د پئيو مور، ځيني مَحرم هم نه دي، د هغوئي هم حقونه دي تر دې چه د ګاونډي هم حقونه دي خو هغوئي په دې آيت کښې داخِل نه دي ځکه چه دلته رِحمی [يعني د چا سره چه د هميشه د پاره نِکاح حرامه وي] او [نَسَبي] خپلوان مُراد دي.

(تفسيرِ نَعِيمِی ج۱، ص۴٤۷)

## كه خپلوان په بل ملك كښې وي نو څه اوكړي؟

كه دا كس په پرديس [يعني بل وطن ] كښې دې نو [نَسَبي] خپلوانو ته دِ خط راليږي، د هغوئي سره دِ خط و كتابت جاري ساتي د دې د پاره چه بې تعلُّقي پيدا نه شي او كه كيدې شي نو وطن ته دِ راشي او د [نَسَبي] خپلوانو سره دِ تعَلُّقات تازه كړي، په داسې كولو به په مَحبَّت كښې اِضافه كيږي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۹، ص۶۷۸) نن صبا رابطه ډيره زياته آسانه ده، په خط رسيدو كښې ډير وخت لګيدې شي، كه كيدې شي نو د فون او اِي ميل په ذريعه هم رابطه ساتلې شي ځكه چه دا هم د اِزدِيادِ حُب (يعني د محبَّت زياتولو) ذريعې دي.

## د قطعِ رِحُم يو صُورت

چه كله كوم [نَسَبي] خپلوان څه حاجت وړاندې كړي نو د هغه حاجت دِ پوره كړي، هغه رَد كول قَطعِ رِحُم (يعني خپلوي كټ كول)

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

دي. (دُرَر، ص۳۲۳) ياد ساتئ! قَطعِ رِحُم يعني [نَسَبي] خپلوي پريښودل حرام دي.

## صِلۀ رِحُم دا دې چه هغه ئې ماتوي او ته ئې بيا هم جوړوې

صِلۀ رِحمي (يعني د [نَسَبي] خپلوانو سره ښه سلوك) صرف د دې نوم نه دې چه كه هغه [ښه] سُلوك اوكړي نو ته ئې هم اوكړې، دا څيز خو په حقيقت كښې مُكافاة يعني بدله خلاصول دي چه هغه ستا كره [څه څيز] را اوليكو او تا د هغه كره اوليكو، هغه ستا كره راغې او ته د هغه كره ورغلې. په حقِيقت كښې صِلۀ رِحم (يعني د خپلوانو سره د كامِل درجې حُسنِ سُلوك) دا دې چه هغه [تعلق] پريږدي او ته ئې جوړوې، هغه ستا نه جُدا كيدل غواړي، بې پرواهي كوي او ته د هغه سره د [نَسَبي] خپلوئ د حُقُوقو لِحاظ كوې. (رَدُّالْمُحْتَار ج۹، ص۶۷۸)

## د خفه خپلوانو سره صُلح اوكړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! زما تاسو ته مَدَني عرض دې چه كه ستاسو د كومو [نَسَبي] خپلوانو سره خفګان وي نو اكر كه قصور د هغه خپلوانو وي د صُلح [يعني كور جوړولو] د پاره تاسو پخپله ورمخكښې شئ او په فراخه تندې د هغه سره ملاقات اوكړئ او تعلُّقات ورسره صحيح كړئ. خو كه څه شرعي مصلحت پكښې رُكاوټ وي نو بيشكه صُلح مه كوئ. د عاشقانِ رسول په مَدَني قافِلو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

کښې د سُنّتو د تربِيَّت د پاره سفر او هره ورځ د فِکرِ مدينه په ذريعه د **مَدني انعاماتو** رِساله ډکول او د هرې مياشتې په وړومبۍ ورځ د خپل ځائ ذِمّه دار ته د جمع کولوپه بَرَکت به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په خاطر د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تاسو کښې د اِحتِرامِ مُسلِم هٰغه درد پيدا شي چه د ټولو خفه خپلوانو سره به مو صُلح هم اوشي بلکه هغوئي به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د **دعوتِ اِسلامي** په مَدَني ماحول کښې شامِل شي. ـــه

سب شکر رنجیاں دور ہوں گی میاں
قافلے میں چلیں قافلے میں چلو

شي به لرې ټول خفګان قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د يتِيم په سر د لاس راښکلو فضِيلت

د کوم يو ماشوم يا ماشومې پلار چه وفات شي هغې ته يتيم وائي. چه کله ماشوم يا ماشومه بالِغان شي نو د يتيم اَحکام ختم شي. د يتيمانو سره د ښه سُلوك کولو هم غټ ثواب دې. چنانچه د رَسُولِ کريم رءُوفٌ رَّحِيم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عظِيم دې: "څوك چه د يتيم په سر باندې صرف د اللّٰه تعالیٰ د پاره لاس راښکاږي نو په څومره وِيښتو چه د هغه لاس تير شو، د هر وِيښته په بدله کښې د هغه د پاره نيکئ دي او څوك چه په يتيمې جينئ يا يتِيم هلك باندې احسان

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کیږي. (طَبَرانی)

اوکړې زه او هغه به په جَنَّت کښې (دوه ګوتې ئې یو ځائ کړې او اوئې فرمائيل) داسې یو.'' (مُسندِ اِمام اَحمد بِن حنبل ج۸، ص۲۷۲، حدیث۲۲۲۱۵)

د **یتیم** په سر باندې د لاس راښکلو او په مِسکین باندې د طعام خوړلو سره د زړه سختې لرې کیږي. چنانچه د حضرتِ سیِّدُنا **ابو هُریره** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه یو کس د خپل زړه د سختئ شکایت اوکړو. نبِیّ رَحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ''د یتیم په سر باندې لاس راښکارېږئ او په مِسکِین طعام خورئ.''
(اَیضاً ج۳، ص۳۳۵ حدیث۹۰۲۸)

زمونږه غمخوار خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلې دي: ''که هلک یتیم وي نو د هغه په سر باندې دِ لاس راښکلو کښې **مخې** طرف ته راولې او که د هلک پلار وي نو لاس راښکلو کښې دِ د شا طرف ته بوځي.'' (مُعجَمُ اَوسَط ج۱، ص۳۵۱ حدیث۱۲۷۹)

## د ښځې سره تعلقات صحیح ساتلو کوشش کوئ

سړي ته پکار دي چه د خپلې ښځې سره ښه سُلُوك کوي. او د هغې سره په حِکمتِ عَمَلئ چلېږي. چنانچه د خوږ خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حِکمت نه ډك بیان دې: بیشکه ښځه د پوښتئ نه پیدا کړې شوې ده ستاسو د پاره په هیڅ شان سِیده نه شي کیدې که ته د هغې نه ګټه [یعني فائِده] اغستل غواړې نو د هغې د کوږوالي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوائِد)

سره [د هغې نه] ګټه حاصلولې شي او که هغه سِيده کول شروع کړي نو ماته به ئې کړي او د هغې ماتول طلاق ورکول دي." (صحيح مُسلِم ص٧٧٥، حديث١٤٦٨)

## د ښځې سره د نرمۍ فضِيلت

معلومه شوه چه څه نه څه خِلافِ مِزاج کارونه به د هغې نه کيږي. سړي ته پکار دي چه صبر کوي. د نبيانو سردار خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "په کامِل اِيمان والؤ کښې هٰغه هم دې څوك چه د ښو اخلاقو والا او د خپلې ښځې سره د ټولو نه زيات نرم طبيعته وي." (سُنَنُ التِّرمِذی ج٤،ص٢٧٨، حديث٢٦٢١)

## د ښځې سره د صبر سلوك کوئ

خوږو خوږو اسلامي وروڼرو! په دې حديثِ پاك کښې د هٰغه خلقو ته د فِکر کولو دعوت دې څوك چه په خبره خبره خپله ښځه رټي بلکه وهي ئې هم. په يو نازك وجود باندې خپل طاقت ښکاره کول او هسې فالتو رُعب اچول نارين توب نه دې. اګر که ښځه خطاګانې کوي بيا هم د معاف کولو نه کار اغستل پکار دي ځکه چه د ښځې نه ډيرې فائِدې هم حاصليږي نو د هغې په نادانۍ باندې صبر هم کول پکار دي. د نبيِّ رَحمت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: مؤمِن سړې د مؤمِنې ښځې سره دُښمني نه شي ساتلې. که د هغې يو خَصلت پرې بد لګي نو بل به ئې خوښ شي." (صحيح مُسلِم ص٧٧٥، حديث١٤٦٩)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

# مالګه ئې زياته اچولي وه

وائي چه: د يو سړي ښځې په طعام كښ زياته مالګه واچوله. هغه ته ډيره غُصّه ورغله خو دا سوچ ئې اوكړو او **غُصّه** ئې برداشت كړه چه خطاګانې خو زه هم ډيرې كووم كه چرې نن ما د ښځې په غَلَطۍ هغه ملامته كړه نو هسې نه چه صبا په ورځ د قيامت اللّٰه تَعَالٰی ما ته د خپلو خطاګانو سزا راكړي. هغه دا سوچ اوكړو او په زړه كښ ئې په خاموشۍ د خپلې ښځې خطا معاف كړه. چه هغه كله وفات شو نو چا په خوب كښ اوليدو او تپوس ئې ترې اوكړو چه اللّٰه تَعَالٰی ستا سره څه معامله اوفرمائيله؟ هغه جواب وركړو چه د ګناهونو د زيات والي په وجه رابانديې عذاب كيدو والا وو چه اللّٰه تعالٰی اوفرمائيل: زما بندې په اِنګولې كښ مالګه زياته اچولې وه او تا د هغې خطا معاف كړې وه، ځه زه هم د هغې په بدله كښ نن تا معاف كووم.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسُول سره په مدني قافلو كښ د سفر سعادت حاصلولو او هره مياشت په پابندۍ سره د **مَدَني انعاماتو** رِساله د جمع كولو په بَرَكت به اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی ستاسو كورنۍ جنګ جګړې ختميږي او ستاسو كورونه به د خوشحالۍ ځائيونه جوړ شي او اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی ستاسو خاندان ته به د مدينې مُنوَّرې نظارې نصيب شي. ـــه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

سویا ہوا نصیب جگا دیجئے حُضُور
میٹھا مدینہ مجھ کو دکھا دیجئے حُضُور

زما اوده نصيب را وِيښ کړئ خوږ نبي
مدينې ته مې اوغواړئ خوږ نبي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خاوند حقونه

ښځې ته هم پکار دي چه د خپل خاوند سره نيك سُلوك كوي. چنانچه د خوږ خوږ مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوشبوداره فرمان دې: "قسم دې په هغه د چا په قبضهٔ قُدرت كښې چه زما ساه ده، كه د ښپو نه واخله د سره پورې د خاوند په ټول بدن كښې ز ونه وي او د هغې نه نَوُونه او زَوَې (يعني وِينې او نوونه كډ وَډ) بهيږي، بيا ښځه هغه اوڅټي بيا ئې هم د خاوند حق ادا نه كړو."

(مُسندِ اِمام اَحمد بِن حَنبل ج٤، ص٣١٨ حديث ١٢٦١٤)

## د خاوند كور دِ نه پريږدي

په خبره خبره د پلار كره خفه تللو والا ښځې دِ دا حديثِ پاك خپل زړه ته كُوز كړي او بيا بيا دِ ئې ځان ته رايادوي، د سردارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: او (ښځه دِ) بغير د اِجازت نه د هغه (يعني د خاوند) د كور نه نه ځي كه (بې [د شرعي] ضرورته) ئې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعنې لاس مِلاووُم). (ابنِ بشکوال)

داسې اوكړل نو تر څو چه توبه اونكړي يا بيرته رانشي، اللّٰه تعالیٰ او د هغه فرښتې په هغې لعنت كوي. (کنزُ العُمّال، ج١٦ ص١٤٤، رقم٤٤٨٠١، مُلَخَّصاً)

## د اكثرو ښځو د جهنّمي كيدو سبب

ځينې ښځې د خپلو خاوندانو سختې نافرمانه او ناشكره وي او كه لګه څه خبره پرې بده اولګي نو تير شوي ټول احسانونه هير كړي او ښيرې او وَينا شروع كړي. كومې اسلامي خويندې چه په خبره خبره جنګ جګړه او پيغورونه كوي هغوئي ته يَريدل پكار دي چه د مدينې سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځل عيدګاه ته تشريف وړلو او د ښځو په خوا تيريدلو نو اوئې فرمايل: "اے ښځو! صَدَقه كوئ ځكه چه ما اكثرې تاسو جهنَّمې ليدلې ئې." ښځو عرض اوكړو: يا رسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د دې وجه؟ اوئې فرمائيل: ځكه چه تاسو لعنت ډير كوئ او د خپل خاوند ناشُكرې كوئ."

(بُخاری ج١، ص١٢٣، حديث٣٠٤)

## د ګاونډيانو اَهَمِّيَّت

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! هر يو ته پكار دي چه د خپلو ګاونډيانو سره ښه سُلوك كوي او د شرعي مَصلَحت نه بغير د هغوئي په احترام كښې كمې نه كوي. يو كس د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمتِ بابَرَكت كښې عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذِی)

ته به دا څنګه معلومه شي چه ما ښه اوکړل او که بد؟ اوئې فرمائيل: ”چه کله ته د ګاونډيانو نه دا واورې چه تا ښه اوکړل، نو بيشکه تا ښه اوکړل او چه کله ترې دا واورې چه تا بد اوکړل نو بيشکه تا بد کړې دي.“ (اِبْنِ ماجه ج٤، ص٤٧٩ حديث ٤٢٢٣)

## د اوچت کِردار سَنَد

اَللّٰہُ اَکْبَر! د ګاونډيانو دومره ډير اَهَمِّيَّت چه ”د کِردار سرټيفکيټ“ [يعني سَنَد] د هغوئې په ذريعه ورکولې کيږي. افسوس! بيا هم نن صبا خلق د ګاونډيانو هيڅ پرواه نه کوي. د عاشقانِ رسُول سره په مدني قافلو کښې د سفر سعادت حاصلولو او هره مياشت په پابندئ سره د مَدَني انعاماتو رِساله جمع کولو په بَرَکت، د خوږ مُصطفي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر به مو په زړه کښې اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د ګاونډيانو اَهَمِّيَّت پيدا کيږي او د هغوئې د اِحترام ذِهن به مو جوړيږي او اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ستاسو چم ګاونډ به د مدينې باغ جوړ شي. ؎

بہار آئے مَحَلّے میں مرے بھی یا رسول اللہ
اِدھر بھی تو جھڑی برسے کوئی رحمت کے بادل سے

؎ لې دِ راشي زمونږ په چم ګاونډ کښې يَارسول الله
د رَحمتونو د ورېځو دِ جَړئ دلته هم اُو وريږي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

## امِيرِ قافِله څنګه پكار دې؟

په سفر كښې چه كوم امِيرِ قافِله وي هغه ته د خپلو ملګرو احترام او د هغوئي ډير زيات خِدمت كول پكار دي. چنانچه فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: په سفر كښې هُم هغه اَمِير دې څوك چه د هغوئي خِدمت اوكړي، كوم كس چه په خِدمت كښې مخكښې شو نو د هغه ملګري په يو عمل كښې د هغه نه نه شي مخكښې كيدې، خو كه په هغوئي كښې څوك شهيد شي نو هُم هغه به مخكښې شي.“

(شُعَبُ الْاِيمان ج٦، ص٣٣٤، حديث٨٤٠٧)

## پاتې شوې خيزونه نورو ته د وركولو ترغِيب

په يوه موقع د مديني سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سفر كښې ارشاد اوفرمائيلو: ”د چا سره چه زياته سورلئ وي هغه دِ ئې بې سوَرلئ ته وركړي او د چا سره چه پاتې شوې خوراك وي هغه دِ بغير خوراك والا باندې اوخوري“ او هم دغسې ئې د نورو خيزونو مُتعلِّق ارشاد اوفرمائيلو. حضرتِ سيِّدُنا اَبُو سَعِيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ فرمائي چه هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هُم دغه رنګ د مال مُختلِف قِسمونه ذِكر كړل تر دې چه مونږ محسوسه كړه چه د پاتې شوې خيز نه چا ته د خپل ځان سره د ساتلو هډو حق نشته. (صحيح مُسلِم ص٩٥٢ حديث١٧٢٨)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

# د ماتحتو په باره کښې به تپوس کيږي

**صرف** اميرِ قافِله نه بلکه هر يو ته د خپلو ماتحتو سره حُسنِ سُلوك کول ضروري دي، ځنګه چه د اللّٰه تعالیٰ د خوږ **محبوب** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هِدايت نه ډك فرمان دې: ”په تاسو کښې هر يو **نِګران** دې او د نګرانۍ په باره کښې به د هر يو نه تپوس کيږي **بادشاه** نِګران دې، د هغه د رِعايا په باره کښې به د هغه نه تپوس کيږي او **سړې** د خپل کور **نِګران** دې او د هغه د رِعايا [يعني ماتحتو] په باره کښې به د هغه نه تپوس کيږي او **ښځه** د خپل خاوند په کور کښې نِګرانه ده او د هغې د رِعايا په باره کښې به د هغې نه تپوس کيږي.“

(بُخاری ج۲، ص۱۱۲، حديث۲۴۰۹)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسُول په مَدَني قافِلو کښې مسلسل د سفر سعادت او د **مَدَني اِنعاماتو** د رِسالې ډکولو او هره مياشت د جمع کولو په بَرَکت به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په خاطر د خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو ماتحتو د اِحتِرام هُغه جذبه درنصيب شي چه اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هر يو کس به درنه خوشحاله وي او ”دُعائے مدينه“ به درته کوي. ؎

میں دنیا کی دولت کا منگتا نہیں ہوں
مجھے بھائیو! دو دعائے مدینہ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

زه نه غوارمه دولت د دې دُنیا ورونړو اوکړئ ما ته دُعائے مدینه

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د کارونو تقسِیم

**د سفر** په دوران کښې ټول بوج په یو کس باندې د اچولو په ځائ په خپل مینځ کښې کارونه تقسیمول پکار دي. چنانچه یو ځل په یو سفر کښې صحابهٔ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضوَان د چیلۍ د حلالولو اِراده اوکړه او کار ئې تقسِیم کړو، چا په خپله ذِمّه د حلالولو کار واغستو او چا د څرمنې وِیستلو او چا د پخلې ذِمّه واغسته، خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: لرګي راجمع کول زما په ذِمّه دي. صحابهٔ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: زمونږه خوږه سرداره صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا به هُم مونږه اوکړو. اوئې فرمائیل: ”دا خو ما ته هم معلومه ده چه تاسو به دا کار (په خوشحالۍ) اوکړئ خو ما ته دا نه ده خوښه چه په تاسو کښې بیل ښکارم او اللّٰه تعالیٰ هم دا نه خوښوي.“

(خُلاصه سِیرةُ سَیِّدِالبَشر لمحب الدین الطبری ص۷۵ مُلَخَّصاً)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نورو ته خپل سِیټ پرېږدئ

که په ریل ګاډي یا بس وغیره کښې سِیټونه کم وي نو دا نه ده پکار چه څېنې دِ ناست اوسي او څېنې دِ په ولاړه ولاړه سفر کوي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرھِیب)

پکار دا ده چه د موقعې او د ځائ په مناسبت ټول وار په وار کښيني او د نورو د پاره خپل سِيټ اِيثار کوي [يعني قربانوي] او ثواب ګټي او د ثواب ګټلو د پاره داسې سِيټ هم قربانولې شئ چه د هغې تاسو بُکِنګ کړې وي ځکه چه د بُکِنګ کولو په وجه اِيثار کول څه منع نه دي. حضرتِ سيِّدنا عبدُ الله بِن مسعُود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه په غزوۂ بَدر کښې د يو اوښ په حِساب درې درې کسان وو. چنانچه حضرتِ سيِّدنا ابو لُبابه او حضرتِ سيِّدنا علي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا د سردارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په سوَرلئ کښې شريك وو، د دواړو حَضَراتو بيان دې چه کله به د سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پيده تللو وار راتلو نو مونږه دواړو به عرض اوکړو چه زمونږه خوږه نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو سور اوسئ، ستاسو په بدل کښې به مونږه پيده لاړ شو. ارشاد به ئې اوفرمائيلو: تاسو زما نه زيات طاقتور نه ئې او زه ستاسو په نِسبت د ثواب نه بې پرواه نه يم." (يعني زه هم ثواب غواړم نو بيا ولې زه پيده لاړ نه شم!) (شرحُ السُنَّه ج٥، ص٥٦٦، حديث٢٦٨٠)

## په مَدَني قافِله کښې سفر اوکړئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسُول په مَدَني قافِلو کښې مسلسل د سفرِ سعادت او د **مَدَني اِنعاماتو** د رِسالې ډکولو او هره مياشت د جمع کولو په بَرَکت به مو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی په خاطر د خوږ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (کنزُ العُمّال)

مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ايثار كولو جذبه پيدا شي او د دې په بَرَكت به درته اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالىٰ د حج د سفر او د مديني د ديدار كولو سعادت هم نصيب شي او د سفر په دوران كښ به درته د مديني د مسافرو د پاره مِنٰى شريف، مُزدلِفه شريف، عَرَفات شريف او مكهٔ مُكَرَّمه او مديني مُنوَّرې ته د تللو په وخت كښ په ډير شوق د سِيټونو وړاندې كولو سعادت هم نصيب كيږي. ؎

یارب! سُوئے مدینہ مَستانہ بن کے جاؤں
اُس شمعِ دوجہاں کا پروانہ بن کے جاؤں

يا ربه مديني ته مې روان كړې مستانه
پتنگ د هغه شمعې شمه جوړ زه ديوانه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## زيات ځاۍ مه نِيسئ

په اجتِماعاتو وغيره، داسې ځاۍ كښ چه هلته خلق زيات وي هلته د خپل سهولت د پاره زيات ځاۍ ګيرول او د نورو خلقو د تكليف باعث جوړيدل نه دي پكار. چنانچه د حضرتِ سيِّدنا سَهْل بِن مُعاذ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا بيان دې چه: زما والِد صاحِب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه مونږه د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره جِهاد ته لاړو نو خلقو منزِلونه تنګ كړل (يعني د ضرورت نه زيات ځاۍ ئې اونيولو) او

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

لاره ئې بنده کړه. په دې خبره رسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو کس ور اوليږلو چه هغه دا اِعلان اوکړي، "بيشکه څوك چه مَنزِلونه تنګ کړي يا لاره بنده کړي نو د هغه هيڅ جِهاد نشته."

(ابو داود ج۳، ص۵۸، حديث۲۶۲۹)

## د راتلو والا د پاره د ځائ نه خوزيدل سُنَّت دي

څوك چه د مجلس نه ناست وي، د هغوئي د پاره سُنَّت دا دي چه کله څوك راشي نو د هغه د پاره د خپل ځائ نه اوخوزيږي. د حضرتِ سيِّدنا واثِله بِن خَطّاب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه يو کس د تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښ حاضِر شو. خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جُمات کښ تشريف فرما [يعني ناست] وو. رَحمَتِ عالَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه د پاره د خپل ځائ نه اوخوزيدو. هغه عرض اوکړو: يا رسُولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځائ خو فَراخه دې، (تاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولې د خوزيدو تکليف اوفرمائيلو!) اوئې فرمائيل: "د مسلمان حق دا دې چه کله د هغه ورور هغه اووِيني نو د هغه د پاره د خپل ځائ نه اوخوزيږي." (شُعَبُ الإيمان ج۶، ص۴۶۸، حديث ۸۹۳۳)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسُول په مَدَني قافِلو کښ مسلسل د سفر سعادت او د **مَدَني اِنعاماتو** د رِسالې ډکولو او هره مياشت د جمع کولو په بَرَکت به اِنْ شَآءَالله تعالیٰ په خاطر د خوږ مُصطفٰی

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په لړ شان ځائ کښې بَرَکت کيږي او د نورو د پاره به مو د خپل ځائ نه د خوزيدو ذِهن جوړيږي او اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په **جَنَّتُ البَقِيع** کښې به درته ډير زيات فراخه ځائ نصيب شي. ؎

زاہدِین دُنیا بھی رَشک کرتے عاصی پر
میں بقیعِ غرقَد میں دفن ہو اگر جاتا

په عاصي[3] به رَشك كولو زاهِدانو[4] د دُنيا
چرې خخ که په بقيع کښې شوې زه وې

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نورو نه پټې خبرې کول

د حضرتِ سيِّدنا عبدُ الله بِن مسعُود رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ بيان دې چه رسُولِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ”چه کله تاسو درې ئې نو دوه کسان دِ د دريم نه بغير پټې پټې خبرې نه کوي تر څو چه مَجلِس ته ډير شي خلق رانشي، دا ځکه چه دې دريم ته به خفګان رسي.“ (بُخاری ج٤، ص١٨٥ حديث٦٢٩٠) (يعني شايد چه دوئي زما په باره کښې څه وائي يا دا چه زه ئې د دې لائِق اُو نه ګنړلم چه په خپلو خبرو کښې ئې شريك کړې ووم وغيره)

[3] [ګُنهګار]

[4] [زاهِد معنٰی: د دُنيا محبَّت پريښودو والا]

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذی)

# په څټونو د پاسه تيريدل

کوم خلق چه د مخکښې نه په مخکښنو صفونو کښې ناست وي، وروسته راتلونکو ته د هغوئي په څټونو د پاسه مخکښې ته د تلو اجازت نشته. چنانچه سردار د مديني صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ”څوك چه د جُمُعې په ورځ د خلقو په څټونو د پاسه تير شو هغه د جَهَنَّم طرف ته پُل جوړ کړو.“ (تِرمِذی ج۲، ص۴۸، حديث ۵۱۳) د دې يوه معنٰی دا ده چه خلق به د هغه د پاسه ورخيژي او دوزخ ته به داخليږي.

(حاشيه بهارِ شريعت ج۱، ص۷۶۱، ۷۶۲)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د جُمُعې د نمانځه د پاره جُمات ته زر حاضريدل پکار دي، که ناوخته شو او **خُطبه** شروع شوه نو په جُمات کښې چه د کوم ځائ پورې رسيدلې دې هم هلته دِ حِصار شي يو قدم دِ هم نه مخکښې کيږي. زما سردار **اَعلٰی حضرت** اِمامِ اَهلِسُنَّت، **مُجَدِّدِ** دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د خُطبې په حالت کښې ګرځيدل حرام دي. تر دې چه عُلَمَائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی فرمائي چه که داسې وخت کښې راغې چه خطبه شروع شوه نو جُمات کښې چه کوم ځائ ته رسيدلې دې هم هلته دِ اودريږي، مخکښې دِ نه ځي ځکه چه دا به عمل وي او د خُطبې په حالت کښې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شریف لولئ بیشکه ستاسو په ما باندې درود شریف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِیر)

یو عمل هم رَوا نه دې. (فتاوٰی رَضَوِیّه مُخرَّجه، ج۸، ص۳۳۳) نور فرمائي: په خُطبه کښې کوم یو طرف ته په خټ تاوهلو کتل (هم) حرام دي. (اَیضاً ص۳۳٤)

## د دوو په مینځ کښې ننوتل

که دوه کسان ناست وي نو د هغوئي د اجازت نه بغیر د هغوئي په مینځ کښې ننوتل سخته بد اخلاقي او د اِحتِرامِ مُسلِم سراسر خِلاف ورزي ده. چنانچه د شهنشاهِ مدینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: "د یو کس د پاره هم حلال نه دي چه د دوو انسانانو په مینځ کښې د هغوئي د اجازت نه بغیر جُدائي اوکړي." (ابو داود ج٤، ص٣٤٤، حدیث٤٨٤٥) (یعني د هغوئي د اجازت نه بغیر د هغوئي په مینځ کښې کښیناستل حلال نه دي) د حضرتِ سیِّدنا حُذَیفه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د رِوایت مطابق څوك چه د حلقې [یعني تولکي] په مینځ کښې کښیني داسې انسان د سرکارِ دوعالم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وَینا ملعُون (یعني لعنتي) دې (تِرمِذی ج٤، صفحه ٣٤٦ حدیث ٢٧٦٢) د اللّٰه تعالٰی د خوږ حبیب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا هم فرمان دې چه یو کس دِ بل کس د هغه د ځایٔ نه نه پاڅوي او بخپله دِ [د هغه په ځایٔ] نه کښیني خو کښیناستلو والا دِ [د بل د پاره] فراخي کوي. (مُسلِم ص١١٩٩ حدیث٢١٧٧)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانی)

د اللّٰه تعالٰی د مَحبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِيشان دې: ځوك چه د خپل مجلِس نه پاځي او بيا بيرته راشي نو د خپل ځاۍ هُم هغه زيات حقدار دې. (اَيضاً حديث ۲۱۷۹)

## په صف كښې په څادر اېښودلو ځان له ځاۍ نيول

زما سردار اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه فرمائي: كه څوك جُمات ته راغي او يو ځاۍ كښې كښيناستو بيا د اوداسه د پاره لاړو او خپل ټوكې [يعني كپړه، څادر وغيره] ئې هلته پرېښودو، بل كس دِ د هغه ځاۍ نه هغه ټوكې نه لرې كوي او هلته دِ نه كښيني ځكه چه [هلته] د ناستې والا قبضه د مخكښې نه شوې ده. (خو دا قبضه د لږ ساعت د پاره ده څنګه چه اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه مخكښې فرمائي:) داسې قبضه د لږ ساعت د پاره مُسَلَّم (يعني منلې) كيږي څنګه چه ټوكې اېښودلو او اودس له تللو كښې، داسې نه ده چه په جُمات كښې خپل څه څيز كيږدئ او هغه ځاۍ د هميشه د پاره ستاسو د پاره مخصوص شي چه كه تاسو كله راځئ نو په نورو باندې تقدِيم (يعني اوچت والې) مُومئ، داسې بالكل نه جائِز دې او نه قبول. (فتاوٰی رَضَوِيّه ج۱٦، ص۱٤۸)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰیصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسُول په مَدَني قافِلو كښې مسلسل د سُنَّتو نه د ډك سفر سعادت او د مَدَني اِنعاماتو د رِسالې ډكولو او هره مياشت د جمع كولو په بَرَكت به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى په خاطر د خوږ مُصطفٰى صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مجلِس د آدابو، د نورو د حق تلفئ او د زړونو ازارولو نه د ډډې كولو او د احترام مُسلِم كولو ذهن جوړيږي او د دې مَدَني تربِيَّت په بَرَكت به درته اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى د حج او زيارتِ مدينه سعادت حاصل شي او هلته به درته هم په دې سُنَّتو عمل كول نصيب شي. ـــه

تیرے دیوانے سب، آئیں سُوئے عَرَب
دیکھیں سارے حَرَم، تاجدارِ حَرَم
ستاسو ټول عاشقانِ، دِ طيبه ته شي روان
چه زيارت اوكړي د حرم، تاجدارِ حَرَم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## زړه مه ازاروئ

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د اِحترامِ مُسلِم تقاضه دا ده چه په هر حال كښې د هر مسلمان د ټولو حقونو لِحاظ اوساتلې شي او د شريعت د اجازت نه بغير د يو مسلمان هم زړه زارول نه دي پكار. زمونږه خوږ خوږ مصطفٰى صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كله هم د كوم يو مسلمان

فرمَانِ مُصطفٰیﷺ: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

زړه نه دې ازارولې، نه ئې په چا پورې توقې کړې دي، نه ئې خوك رټلې دي او نه ئې د چا بې عِزَّ کړې ده بلکه هر يو ئې سِينې ته لګولې دې، بلکه ـ

لگاتے ہیں اُس کو بھی سینے سے آقا
جو ہوتا نہیں منہ لگانے کے قابل

آقا هغه هم لګوي خپلې سِينې ته
خوك چه نه وي د خبرو هُم قابِل

## اُسوۂ حَسَنه

د اِحترامِ مُسلِم کولو د پاره مونږ ته د خپل خوږ مَدَني آقا ﷺ اُسوۂ حَسَنه [يعني د ژوند تيرولو بهترين مِثال] ته کتل پکار دي او په هغې د عمل کولو کوشش پکار دې.

سيپاره ۲۱ سُوۡرَةُ الۡاَحۡزَاب آيت ۲۱ کښې ارشاد کيږي:

لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِيۡ رَسُوۡلِ اللّٰهِ اُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه ستاسو د پاره د رَسُولُ الله پيروي بهتره ده.

## د اَخلاقِ مُصطفٰی ﷺ خرَکونه

خوږ خوږ آقا، د مکّې مديني والا مُصطفٰی ﷺ يقيناً په ټولو مخلوقاتو کښې د ټولو نه زيات مُکرَّم، مُعَظَّم او مُحترم دې او په هر

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

حال کښې د هغوئي اِحتِرام کول زمونږ د پاره عظيم فرض دې. اوس ستاسو په خِدمت کښې د سَیِّدُ الْمُرسَلِین، خَاتَمُ النَّبِیّین، جنابِ رَحمةٌ لِّلعٰلمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اَخلاقِ حَسَنه يو څو څرګونه وړاندې کووم چه هغه خاص طور د احترامِ مُسلِم د پاره مونږ ته لار ښودونکې دي.

۞ د دوارو جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هر وخت د خپلې ژبې حِفاظت فرمائيلو او صرف د کار خبره به ئې کوله ۞ راتلونکو خلقو سره به ئې د مَحبّت سُلوك کولو، داسې څه خبره به ئې نه کوله چه د هغې نه نفرت پيدا کيږي ۞ د قوم د عِزّت مند کس لحاظ به ئې کولو او هغه به ئې د قوم سردار ټاکلو ۞ خلقو ته به ئې د اللّٰه تعالیٰ نه د يَريدلو نصيحت کولو ۞ د صَحابَهٔ کِرَام عَلَيهِمُ الرِّضوَان د خير خبر تپوس به ئې کولو ۞ د خلقو د ښو خبرو صِفَت به ئې بيانولو او هغې ته به ئې تَقوِيَّت ورکولو، بد څيز ته به ئې بد وئيلو او په هغې باندې د عمل کولو نه به ئې منع کوله ۞ په هره معامله کښې به ئې د اِعتِدال (يعنې درميانه انداز) نه کار اخستلو ۞ د خلقو د اصلاح نه به ئې کله هُم غَفلت نه کولو ۞ نبيِّ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په ناسته ولاړه (يعنې هر وخت) ذِکرُاللّٰه جَلَّ جَلالُه کولو ۞ چه کله به ئې څه ځائ ته شريف يوړو نو چرې به ئې چه ځائ اوموندلو هلته به کښيناستلو او نورو ته به ئې هم د دې تلقين [يعني نصيحت] کولو ۞ خپلې خوا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوائِد)

ته د ناست کس د حقونو لِحاظ به ئې ساتلو ۞ د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر اوسيدلو والا هر کس به د ا ګنړله چه حُضُورِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه زيات زما سره محبَّت کوي ۞ چه څوك به ئې په خِدمتِ مبارکه کښې حاضِر شو نو د خبرو کولو والا سره به د هغه وخته پورې تشريف فرما وو تر څو به چه هغه پخپله لاړ نه شو ۞ چه کله به ئې د چا سره مُصافَحه کوله (يعني لاس به ئې ورکولو) نو مخکښې به ئې ترې خپل لاس نه راښکلو ۞ سوالګر (يعني غوښتونکي) ته به ئې ورکړه کوله ۞ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سخاوت او خوش اخلاقي د هر يو د پاره عامه وه ۞ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مجلِسِ عِلم د برداشت، حيا، صبر او امانت مجلِس وو ۞ د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَجلِس کښې به نه شور شغرب وو او نه به پکښې د چا بې عِزَّتي وه ۞ د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَجلِس کښې به چه د چا نه څه خطا اوشوه نو هغه به ئې نه شُهره کوله (شمائِلِ ترمِذِی، ص۱۹۲، ۱۹۳ وغيره مُلَخَّصاً) ۞ کله به چه د چا طرف ته مُتوَجِّه کيدلو نو پوره تَوَجُّه به ئې فرمائيله (شُعَبُ الْاِيمان حديث ۱٤۳) ۞ خوږ نبي سَرور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د چا مخ ته خخ نه کتلو (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج۲ ص٤٤۲) ۞ حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بتول [يعني بې واده جينۍ] نه هم زيات حيادار وو (شمائِلِ ترمِذِی، ص۲۰۳) ۞ په سلام کولو کښې به مخکښې

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہ تعَالٰی عَلَیْہِ وَالِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِې په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښې زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذی)

كيدلو (شُعَبُ الْاِيمان، حديث۱۴۳) ۞ ماشومانو ته به ئې هُم سلام كولو ۞ چا به چه ورته غږ [يعني آواز كولو] نو په جواب كښې به ئې ”لَبَّيْك“ (يعني زه حاضِر يم) فرمائيلو (وسائِلُ الوصول ص۲۰۷) ۞ په مجلِس كښې د ناستو خلقو طرف ته به ئې ښپې مباركې نه غزولې ۞ اكثر به مخ په قبله كښيناستلو ۞ د خپل ذات د پاره به ئې كله هم د چا نه بدله نه اغستله ۞ د بدئ بدله به ئې په بدئ د وركولو په ځائ معاف كول اختيارول (اِحياءُ الْعُلوم ج۲، ص۴۴۸، ۴۴۹) ۞ د اللّٰه تعالیٰ په لاره كښې د جِهاد نه علاوه ئې كله هم څوك په خپل مبارك لاس نه دې وهلې، نه ئې يو غُلام وهلې او نه ئې يوه ښځه (يعني بي بي مباركه وغيره) وهلې ده (شمائِلِ ترمِذی، ص۱۹۷) ۞ په خبرو كښې به ئې نرمي وه (اِحياءُ الْعُلوم ج۲، ص۴۵۱) ، نبيِّ كريم صَلَّی اللّٰہ تعَالٰی عَلَیْہِ وَالِہٖ وَسَلَّم فرمائې: د اللّٰه تَعَالٰی په نِزد د قيامت په ورځ په خلقو كښې د ټولو نه بد هغه دې څوك چه د هغه د بدكلامئ په وجه خلق پريږدي (صحيح مُسلِم ص۱۳۹۸، حديث۲۵۹۱) ۞ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ تعَالٰی عَلَیْہِ وَالِہٖ وَسَلَّم به چه خبرې كولې نو (دومره په واره به وې چه) د لفظونو شميرلو والا به شميرلې شوې (بُخاری حديث۳۵۶۷) ۞ په طبيعت كښې ئې نرمي وه او ډير خوشحاله خوشحاله به اوسيدو ۞ نه به ئې په غُصّه كښې په زوره زوره خبرې كولې ۞ سختې خبرې به ئې نه كولې ۞ په چا به ئې عيب نه لګولو ۞ بُخل به ئې نه كولو ۞ خپل ذات مبارك به ئې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

خاص طور د درې ځيزونو، جګړې، تڪبُّر او بيکاره خبرو نه ساتلو ۞ د چا عيب به ئې نه لټولو ۞ صرف هٔغه خبره به ئې کوله چه (د هغوئې صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حق کښې به) د ثواب باعث وه ۞ د مسافر يا ناآشنا سړي د سختو خبرو په تپوس به ئې هم صبر کولو ۞ د چا خبره به ئې نه کټ کوله، البته که څوك به د حده تيريدو نو هغه به ئې منع کولو يا به د هغه ځاۓ نه پاڅيدلو. (شمائِلِ ترمِذی، ص۱۹۹، ۲۰۰ مُلَخَّصاً)

۞ دومره سادګي به ئې اختياروله چه د ناستې د پاره ئې څه مخصوص ځاۓ هم نه وو ساتلې. (اَخلاقُ النَّبِی و آدابه ص۱۵) ۞ کله په پزَکي او کله به ئې د غسې په زمکه آرام فرمائيلو. (وسائِل الوصول ص۱۸۹) ۞ کله به ئې قَهقَهه نه لګوله (يعني په دومره آواز به ئې نه خندل چه که بل څوك وي هغه ئې واوري) (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج۲ ص٤٤٦) ۞ صَحابَهٔ کِرَام عَلَيهِمُ الرِّضوَان فرمائي: حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه زيات مُسکي کيدو والا وو (يعني د موقع په مناسبت) (اِحياءُ الْعُلوم ج۲، ص٤٥٣) حضرتِ عبدُالله بِن حارِث رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه ما د رسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه زيات مُسکي کيدو والا څوك نه دي ليدلې. (شمائِلِ ترمِذی، ص۱۳٦)

یا الٰہی! جب بہیں آنکھیں حسابِ جُرم میں
اُن تبسُّم ریز ہونٹوں کی دُعا کا ساتھ ہو (حدائق بخشش شریف)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

**د شعر ترجَمه:** يا اِلٰهي چه كله د ګناهو د حِساب په وجه ستركي اوبهيږي، په هغه وخت مې د هُغه مسكو شوندو مباركو دُعا شامِلِ حال كړې.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره كښې د سنّتو فضيلت او يو څو سنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ”چا چه زما د سُنّتو سره محبّت اوكړو هغه زما سره محبّت اوكړو او چا چه زما سره محبّت اوكړو هغه به په جنّت كښې زما سره وي.“ (ابنِ عساكر ج ٩، ص ٣٤٣)

سینہ تری سنّت کا مدینہ بنے آقا
جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ”قَطعِ رِحمي حرام ده د ١٣ حُروفو په نِسبت
## د صِلۂ رِحمئ ١٣ مَدَني ګلونه

۞ فرمانِ اِلٰهي جَلَّ جَلَالُهٗ: وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ؕ

(پ٤، النِّساء ١)

[مفهوم] ترجمۂ كنزُالإيمان: ”او د الله نه اويَريږئ، د چا په نوم چه غواړئ او د خپلوو [يعني د خپلوئ] لِحاظ ساتئ.“ د دې آيتِ مباركه نه لاندې په

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (ترمِذِی)

"تفسِيرِ مَظهری" کښې دي: يعني تاسو د قَطعِ رِحم (يعني د [نَسَبي] خپلوانو سره تعلق ماتولو) نه ځان ساتئ (تفسِيرِ مَظهری ج۲، ص۳) ۷ **فرامِينِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ﴿۱﴾ ځوك چه په الله او په قيامت باندې ايمان لري هغه ته پكار دي چه صِلهٔ رِحمي كوي (بُخاری ج۴، ص۱۳۶، حديث۶۱۳۸) ﴿۲﴾ د قيامت په ورځ به د الله تعالٰی د عرش په سورې كښې درې قِسمه خلق وي، (په هغوئي كښې يو دې) صِلهٔ رِحمي كولو والا (الفردوس بمأثور الخطاب ج۲، ص۹۹، حديث۲۵۲۶) ﴿۳﴾ خپلوي كټ كولو والا به جنَّت ته نه ځي (بُخاری ج۴، ص۹۷، حديث۵۹۸۴) ﴿۴﴾ په خلقو كښې هُغه كس د ټولو نه ښه دې ځوك چه په كثرت سره د قُرآنِ كَرِيم تِلاوت كوي، زيات مُتَّقي وي، د ټولو نه زيات د نيكۍ حُكم وركولو او د بدۍ نه منع كولو والا او د ټولو نه زيات **صِلهٔ رِحمي** (يعني د [نَسَبي] خپلوانو سره ښه سُلوك) كولو والا وي (مُسندِ اِمام اَحمد ج۱۰، ص۴۰۲، حديث۲۷۵۰۴) ﴿۵﴾ بيشكه افضل ترين [يعني د ټولو نه غوره] صَدَقه هُغه ده كومه چه په دُښمني پټولو [يعني پټه ساتلو] والا [نَسَبي] خپلوانو باندې اوكړې شي (اَيضاً ج۹، ص۱۳۸، حديث۲۳۵۸۹) ﴿۶﴾ په كوم قوم كښې چه قاطِعِ رِحم (يعني [نَسَبي] خپلوي ماتولو والا) وي، په هُغه قوم باندې د اللّٰه رَحمت نه نازليږي (اَلزَّوَاجِر ج۲، ص۱۵۳) ﴿۷﴾ چا ته چه دا خوښه وي چه د هغه د پاره (په جنَّت كښې) محل جوړ كړې شي او د هغه درجات اوچت كړې شي، هغه

www.dawateislami.net

ته پېكار دي چه څوك په هغه ظلم اوكړي دا هغه معاف كړي او څوك چه دې محرومه كړي دا هغه ته عطا كړي او څوك چه د ده سره قَطعِ تعلق اوكړي دا د هغه سره تعلق جوړ كړي (اَلْمُسْتَدرَك، ج۳، ص۱۲، حديث۳۲۱۵) ۞ حضرتِ سيِّدُنا فَقِيه اَبُواللَّيث سَمَرقَندي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي، د صِلهٔ رِحمىٔ كولو لس فائِدې دي: د اللّٰه تعالىٰ رضا حاصليږي، د خلقو د خوشحالئ سبب دە، فرښتې پرې خوشحاليږي، د مسلمانانو د طرف نه د هغه كس صِفت كيږي، شيطان ته په دې غم رسي، عُمر ورسره زياتيږي، په رِزق كښې ورسره بَرَكت كيږي، وفات شوي آبا و اَجداد (يعني مسلمانان پلار، نيكونه) پرې خوشحاليږي، په خپل مينځ كښې ورسره محبَّت زياتيږي، د وفات كيدو نه پس د هغه په ثواب كښې زياتوالې كيږي، ځكه چه خلق د هغه په حق كښې دُعائے خير كوي (تَنبِيهُ الْغَافِلِين ص۷۳) ۞ د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه د ۱۱۹٦ صفحو كتاب "بهارِ شريعت" ج۳، ص۵۵۸ نه ۵٦۰ كښې دي: د صِلهٔ رِحم معنیٰ **خپلوي جوړول** دي يعني د [نَسَبي] خپلوانو سره نيكي او [ښه] سُلوك كول دي. د ټول اُمَّت په دې باندې اِتِّفاق دې چه **صِلهٔ رِحم** "واجِب" دە او قَطعِ رِحم (يعني [نَسَبي] خپلوي ماتول) "حرام" دي. د كومو خپلوانو سره چه صِلهٔ (رِحم) واجِب دە هغه څوك دي؟ بعضې عُلَماء فرمائيلي دي چه هغه **ذُورِحم مَحْرَم** دي او بعضو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

فرمائیلي دي چه د دې نه مُراد [تړول] ذُورِحُم دي که مَحرم وي او که نه. او ظاهِر هم دا دویم قول دې، په اَحادیثو کښې مُطلقاً (یعني بغیر د څه پابندۍ نه) د [نَسَبي] خپلوانو سره د صِله (یعني [نیك] سُلُوك) کولو حُکم راغلي دې، په قُرآنِ مَجِید کښې مُطلقاً ذَوِی الْقُرْبٰی (یعني قَرابت والا) فرمائیلي شوي دي خو دا خبره ضرور ده چه په [نَسَبي] خپلوۍ کښې مُختلف درجات دي (هم دغسې) د صِلهٔ رِحم (یعني د [نَسَبي] خپلوانو سره د حُسنِ سُلوك) په درجاتو کښې هم تفاوُت (یعني فرق) وي. دمور و پلار مَرتبه د ټولو نه زیاته ده، د هغوئي نه پس د ذُورِحُم مَحرم، (یعني هغه خپلوان د چا سره چه د نَسَبي خپلوۍ په وجه نکاح د همیشه د پاره حرامه وي) د هغوئي نه پس د باقي [نَسَبي] خپلوانو عَلٰی قَدْرِ مَرَاتِب (یعني په خپلوۍ کښې د نزدیکت د ترتیب مطابق) (رَدُّالْمُحْتَار ج۹، ص۶۷۸)

❁ د صِلهٔ رِحمي (یعني د [نَسَبي] خپلوانو سره د سُلوك) مختلف صورتونه دي، هغوئي ته هَدیَه او تُحفه ورکول او که هغوئي ته څه خبره کښې ستاسو اِعانَت (یعني اِمداد) پکار وي نو په هغه کار کښې د هغوئي مدد کول، هغوئي ته سلام کول، د هغوئي ملاقات ته تلل، د هغوئي سره ناسته ولاړه، د هغوئي سره خبرې اترې کول، د هغوئي سره د اخلاقو او مهربانۍ سلوك کول (دُرر ج۱، ص۳۲۳) ❁ که دا کس په پردیس کښې وي نو [نَسَبي] خپلوانو ته دِ خط لیږي، د هغوئي سره دِ خط او

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

کتابت جاري ساتي چه بې تعلقي پيدا نه شي او که کيدې شي نو وطن ته دِ راشي او د [نَسَبي] خپلوانو سره دِ تعلقات تازه کړي، په داسې کولو به په محبَّت کښې اِضافه کيږي (رَدُّالْمُحتَار ج۹،ص۶۷۸) (د فون يا اِنټرنيټ په ذريعه هم د رابطې ترکيب فائده مند دې) ۞ صِلة رِحمي (يعني د نَسَبي خپلوانو سره ښه سُلوك) صرف دې ته نه وائي چه هغه [ښه] سُلُوك اوکړي نو ته ئې هم اوکړې، داسې کول خو په حقيقت کښې مُکافاة يعني بدل خلاصول دي چه هغه ستا کره څيز را اوليګو نو تا د هغه کره اوليګو، هغه ستا خوا ته راغې نو ته د هغه خوا ته لاړې. حقيقتاً صِلة رِحم (يعني د کامِل درجې صِلة رِحم) دا دې چه هغه [تعلقات] پريږدي او ته ئې جوړوې، هغه ستا نه جُدا کيدل غواړي، بې اِعتِنائي (يعني بې پرواهي) کوي او ته د هغه سره د [نَسَبي] خپلوئ د حقونو مُراعات (يعني لِحاظ او رِعايت) ساتې. (اَيضاً)

په زړګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه ۱۶ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب "سُنَّتيں اور آداب" هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو نه ډك سفر هم دې.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (كَنزُالعُمّال)

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

اوګټئ ډير رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
زده کړئ ښکلې سُنّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
حل به موشي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**دا رساله اولولئ او بل ته ئې ورکړئ**

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره کښې د **مَكتَبَةُ الْمَدِينه** نه شائع شوي رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسيم کړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاهکونو ته په تحفه کښې ورکولو د پاره په خپلو دُکانونو کښې هم د رِسالو ايښودلو عادت جوړکړئ، د اخبار خرڅونکو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاوَنډ کښې کور په کور وقفه په وقفه کله يوه کله بله د سنّتو نه ډکو رِسالو رسَوَلو په ذريعه د نيکئ دعوت عام کړئ او ډير ثوابونه اوګټئ.

طالب غم مدینہ بقیع
و مغفرت و بے
حساب جنّت
الفردوس میں
آقا کا پڑوس



یکم محرم الحرام ۱۴۳۴ھ

16-11-2012

www.dawateislami.net

# مسلمان ته په محبَّت د کتلو ثواب

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم مسلمان چه د خپل ورور سره مُصافَحَه اوکړي [يعني لاس ورکړي] او د کوم يو په زړه کښې د بل سره دُښمني نه وي نو د لاسونو جُدا کيدو نه مخکښې به الله تعالٰی د دواړو تير شوي ګناهونه اوبخښي، او څوك چه د خپل مسلمان ورور په طرف د مينې ډك نظر باندې اوګوري او د هغه په زړه کښې کِينه نه وي نو د سترګو اړولو نه مخکښې به د دواړو تير شوي ګناهونه اوبخښلې شي.

(كَنْزُ الْعُمَّال ج ۹ ص ۵۷ حديث ۲۵۳۵۸)

MC 1286


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ الـمدينه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net